ناشر و نویسنده: پوهندوی آصف بهاند
تأریخ: ۲۰۱۴/۰۸/۲۵

# د توتکۍ له وزرو
## (دنوزادي د شعر په بڼ کې)
### لومړۍ برخه

څه کم ځلورلسیزې شوې چې زموږ ټولنه اوخلك د جګړې ښامار، د ناپوهۍ ښامار، د بې اعتبارۍ ښامار، د ځانځانۍ ښامار او څه نورو خطر ناکو ښامارانو چیچلي دي او له «دکن» نه څه چې، له ټولې دنیا نه پاړوګان ورته راغلي دي، خوپر دې ښامار چیچلې ټولنه او خلکو باندې یې دم او منتر تاثیر نه دی کړی. هر څوك چې هر چیرې دي زیړ زبیښلي، غمجن دي او لورۍ ورنه ورك دی. له هستونکو شاعرانو نه خپل یار، دلدار او حتی دار هم ورك دی. خپل لښکریې، د لغاتو لښکریې هم ورنه مرور دی او لکه د افغانستان خلك د خزانو د پاسه وږي، تږي پراته دي، خپل لښکر یې، د خپلو لغاتو د خزانې یو تورۍ یې مرستې ته نه راځي چې د خپل حزین اوغمجن زړه پیغام په کې ونغاړي اوچیرته یې د کوم اوریدونکي د غوږ او یا د کوم لوستونکي د سترګو نذرانه کړي . نوزادی هم د فرهنګ په همدې زیږزبیښلي بڼ کې خزان ځپلی ولاړ و، د پیرمحمد کاروان دعا خدای قبوله کړه چې ویلي یې و:

«راشه درحمت بارانه ښار اخیستی اور دی...»

نا څاپه د رحمت باران و ورید او په همدې اړ و دوړ کې چیرې د کومې توتکۍ له وزرو نه د رحمت اوبه د نوزادي ستونې ته ور وڅڅیدې، شاعرانه عاطفي ستونی یې لوند شو، تاند شو، د شعرغوټۍ په کې غوټه شوې او دا دی اوس دغه غوټۍ غوړیدلې دي اوستاسو په مخ کې پرتې دي.

کله مې چې دنوزادي دشعرونودا ټولګه(بریتور آشنا)، (نوزادي یې بریتور آشنا بولي اوزه یې د توتکۍ له وزرو بولم) ولوستله، تر ټولو ډیر مې«د توتکۍ له وزرو» نومې شعرخوښ شو، نو ځکه مې د خپلې مقالې سرلیك هم له همدې نامه نه په استفادې سره وټاکه.

نوزادي صاحب د توتکۍ له وزرونه د اوبو د څڅلو کیسه د «بریتور آشنا» په مقدمه کې راوړې ده، زه یې د بیا ویلو اړتیا نه وینم، دا چې له علمي پلوه به د توتکۍ له وزرونه د اوبو څڅل په زدکړه او پوهه کې موثره وي او که نه، زه فکرکوم چې دا مهمه نه ده، مهمه دا ده چې د داسې دود یا عقیدې پیروي، د زده کړې او پوهې په لور یومثبت حرکت او نیك فال دی.

د دې شعري ټولګې له لوستلو وروسته زه دې پایلې ته ورسیدم چې د توتکۍ له وزرو نه د شاعر په ستوني کې له څڅول شوو اوبو نه د رحمت باران جوړ شوی دی، د نوزادي په ذهن کې یې د شعر آلهه بیا په ګډا سر کړې ده او د هغې د ګډا او سندرو پایله د شعرونو دغه ټولګه(بریتور آشنا) ده چې ستاسوپه لاس کې ده.

د شعرونو په دې ټولګه کې داسې شعرونه راوړل شوي دي چې زما شعري ذوق یې یو څه را خړوب کړ، نو لومړی به یې د شعر د انځورونو د ګډا په دایره کې، د شعر د یو څو انځورونو په ښکلا باندې سترګې خوږې کړو، بیا به خپل بحث پسې وغځوم:

د تخیل ملا، د ژبې ماتیدل، د پیغورمار، د لیونتوب باران، ماته ژبه، په دار پسې د منصور ژړل، د شونډو پټاسه، په ښو بنده اوښکه، د توبې کرل، د ګریوان کور ته د تنۍ ور وړل او...

په خپله «د توتکۍ وزر» نومې شعرچې تاسو ولولئ، هلته لیدل کیږي چې شاعر د ماشومتوب خوږې او پاکې دنیا ګۍ ته ځي او د هغه وخت او هغه ځای د خاطراتو په یادولو سره د خپل اوسني ژوند تپل شوي دردونه اوغمونه ټکوروي. وګورئ:

«ماشومتوب څه باچاهي وه
موړ به تل لوبې کولې
کاشکې آ د ختو کور وای
چې تیرانو کې یې ځالې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تـــــوتـــکـــيـــو جـــــوړولـــــې
کــاشــکــې خـــورمـــې راســـره واى
تــوتــکــې بـــــه مـــــو نـــيـولې
لـــه وزرنــــــه يــــې پــــر لــــپـــه
اوبـــــه مـــــا تــــــه راکـــولــــې
چې مي خـــلاص ذهن ښايســـتـــه شي
سبـــــقـــونــــه چـــې مـــې زده شــــي
******
چـــې مـــې بـــيـــا خـــور ته ووايــــم
چـــې را ګـــيـــره تـــوتـــکــې کـــړي
پــــر وزر يـــــې اوبـــــه را کــــړي
بــيـــا يـــې مَـــچ پـــر کـــکـــرى کړي
ګـــونــدى دا ځــل را له خـلاص کړي
د زړګـــي بـنـــد بنـــد رګـــــونه
ګـــوندي دا بـــــه را تـــکـــور کـــړي
پـــــرې نـــاســـور نـــاسور زخـــمـونه»

ځيني شاعران کله چي د جګړي د غميزي بيلابيل اړخونه انځوروي، نو هلته ليدل کيږي چي ګودرونه وچ وي، د کلا د دروازو په مخ کي ازغي شنه شوي وي، د زانو وزرونه سوي وي او...
خو د نوزادي په شعرکي بيا د همدې ناهيليو د انځورولو تر څنګ، وچ ستوني لمديږي، سا ورکول کيږي او د پوهي د زده کړي اوشعرالهام ورنه اخستل کيږي. د ماشومتوب يادونه او خاطرې بيا د ده په شاعر ذهن کي، شاعرانه ولولي را پاروي، شاعر هم په خپل ځانګړي انداز کي د ماشومتوب له خوږو خاطر و او د ژوند له نورو تجربو استفاده کوي او د اوسنيو دردونو او رنځونوله پاره مرهم ورنه جوړوي.
په اوسني پښتو شعر کي ځينو شاعرانو آزاد شعر ته مخه کړې ده او د قافيي له دايرې او کړى نه بهر د خپل ذهن له پاره نوي سکښتونه غواړي. نوزادي هم ډير ځلي همدا کارکړى دى، خوغزل يې هم نه دى پرې ايښى، احترام ورته لري او سلام ورته کوي :

آ د شـــعـر فرشـــتـه مـــې کـــړئ خبــره پـــه حـــال
رويبـــاره وروړه ورتـــه، زمـــا ســـلام غـــزل تـــه
ځـولى بـــه ونـيـسمه، حـمـزه بــابـــا زيــارت تـــه
چـي د ماشـــوم غـــوندې بـيـــا، واخـلمــه ګام غزل تـه

دغه راز د «شور» تر سر ليك لاندي غزل د منځپانګي له نظره د پام وړ غزل دى. ماښام او سباوون سره څنګ په څنګ دروي، خو په دواړو کي بيا سباوون انتخابوي:

## شور

پــــــه ايــــــرو نـــــــه ســــــوزم زه اور لټـــــــوم
ځـــــم د ســـکون لـــــه کـــوره شـــور لټـــــوم
دمـابـښـــــــامــو اســـــتازى مــــــه راليـــــږ ئ
د ســــــــباوون پر نيلـــــــې ســــــپور لټــــــوم
د مـــــــړه ســـــاحــل لــــــه قبرســــتانه وځــــم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په توپاني څپو کې کور لټوم
زخمي يادونو زړه زخمي کړ
اوس به کوم زخم ته ټکور لټوم
د زاړه يار زين کړي آس په تمه
د جانان پل د جانان لور لټوم
چې مې په درد د سوي زړه پوهيږي
فراق سيځلی لکه سکور لټوم
زنځير د عقل دې جنون مات نه کړ
نوزادي ستا پښوته به نور لټوم

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ